سمیع الدین افغاني ۲۰۱۸/۱۲/۱۰

# ربښتینې څوک دي؟

محترمو لوستونکو!

که چیرې د بشریت او انساني نړۍ پسمنظر ته ځیر شو انسانانو د ابتدا څخه بیا تر یویشتمې پیړۍ پورې د انساني ژوند د بقا لپاره ډیرې هلې ځلې تر سره کړې او د غیر مترقبه او طبعي حوادثو په مقابل کې د طبیعت سره لاس او ګریوان او د ډیرو قربانیو تر څنګ لازمي بریاوې هم تر لاسه کړې او پدې برخه کې د ډیرو اکتشافاتو شاهدان دي.

بشر وکولای شو د ګرمۍ او یخنۍ له مختلفو افتونو او امراضو سره مبارزه وکړي د خوراک پوښاک، سرپنا او نور حیاتي اړتیاو دلاسته راوړلو لپاره زحمت وګالي. خو اساسي پوښتنه داده چې ولې پدې عصر او زمان کې هم انسانان د ولګې، بدبختۍ او ناخوالو سره مخ دئ ؟ آیا ددې مشکلاتو اساسي عوامل به په څه کې وي؟ آیا لامل به یې داوي چې بشریت ددې نیمګړتیا په له مینځه وړلو کې پاتې راغلی او ندی توانیدلی چې د اوږد انساني ژوند په جریان کې دا ناخوالې له مینځه وېسي؟ او که علت په خپله انسانانو کې دئ ؟

دا هغه پوښتنې دي چې که چیرې په ربښتیني او دقیقه توګه وڅیړل شي او ددې مرض اساسي عوامل تشخیص او د حل نسخه ورته پیدا شي دا به یو ستر ګام وي په بشري ټولنه کې د یو عادلانه او انساني ژوند د احیا لپاره ددې او نورو پوښتنو د ځواب لپاره لازمه ده چې لاندې موضوګانو ته د لوستونکو پام راوګرځوم:

- لمړی - د بشري ټولنې د ژوند د تفاوتنو اصلي عوامل په څه کې دئ ولې یو شمیر زیات وګړي په فقر او بې عدالتیو کې ژوند کوي او یو شمیر نور بیا دهرډول هوساو لازم انساني ژوند د مزایا او امکاناتو څخه برخمند دي ؟

د مثال په توګه که افریقا، آسیا او په مجموع کې مخ په انکشافه یا دریمې نړۍ هیوادو ته پام شو د فقر بدبختیو او محرومیتونو کچه یې ډېره جګه او برخلاف د یو شمیر هیوادونو د ژوند سطحه لوړه او د قوي اقتصاد خاوندان ګرځېدلي دي.

- دوم - کوم هغه مصارفات چې نن سبا د بشر د نابودۍ لپاره پکارول کیږي پدې مانا هغه کارخانې چې د ټوپکو، ټانکونو، جنګي طیارو او د ټولنیزو وژنو سلاګانو د تولید لپاره جوړې شوي او یا د جوړېدو په حال



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

کې دي چې د بشریت او ځمکې د نابودۍ لپاره پکارول شوي او پکاریږي که چیرې په دغه مصارفو د انسانانو د خیر او فلاح لپاره ترې استفاده شوې وای او وشي، مکاتب، روغتنونه او نور عام المنفعه تاسیسات جوړشوي وای او یاجوړ شي اوس به په نړۍ کې د انساني تراژدیو ته د پای ټکی اینودل شوی وای د هر انسان لپاره به دیو آرام، مرفعه او انساني ژوند زمینه برابره وای.

آآیا په یو ټانک به څومر مکاتب او په یوې جنګي طیارې به څومره روغتنونه او همدا رنګه په یوې اتومي سرګلولې به څومره عام المنفعه تاسیسات جوړ وای چې په دقیقه توګه به په افریقا او نورو هیوادو کې ماشومان په سوء تغذیه نه وه مصاب او نه به جنګونو د میلون هاو انسانانو ژوند د نابودۍ سره مخامخ کړی وای.

که په دقیقه توګه ددې ناخوالو او پرابلمونو لاملونه وڅېړل شي دې نتجې ته رسیږو چې ددې بې عدالتیو، ظلم او استبداد عامل یو انسان د بل انسان، یوه ټولنه د بلې ټولني او همدا رنګه یو ملک د بل ملک د اتباعو په حقوقو تېرې دی او د نورو د بدبختیو عاملین ګرځېدلي دي او د ټوپک او ماشینګنو په زور یې د نورو ژوند د خطر سره مواجه کړی او د خلکو په وینو یې لاسونه سره او نن د ارګاه او بارګاه خاوندان دي چې ژوندي مثالونه یې زمونږ هیوادوالو په هیواد کې د دېرش کلني تېل شوي جګړې په جریان کې په سر سترګو ولیدل او هره ورځ د نوو تراژیدیو شاهدان دي. استعمار د نور د هستیو د غصب لپاره د دوو تکتیکونو او روشونو نه استفاده کړې چې هغه د فزیکي ګرمې جګړې او سړې جګړې طرزونه دي چې پدې وسیله یې پردې ملکون ولجه او د منطقې د خلکو هستي یې تاراج او وکړي یې خپل غلامان ګرځولي دي.

د تودې جګړې مثال هغه مستقیم اشغالګره تجاوزونه دي چې د تاریخ په جریان کې قوي هیوادونو په ضعیفه هیوادونو تر سره کړي او هغه ملک یې د خپلې مستقیمي سلطې لاندې راوستی او د هغوی هستې او دارایي یې خپل کړې او هغه ملک یې خپله مستعمره ګرځولی دی.

او بل تکتیک یې ساړه یا تبلیغاتي جنګونه دي چې د هغه په وسیله یې د منطقې یا ملک خلک خطا او خپلو شومو اهدافو لپاره یې ذهنیتو نو ته د خپل په ګټه تغییر ورکړی دی. په دغسې مواردو کې د انسانانو بعضاً د پاکو او سپېڅلو احساساتو نه ګټه پورته کړې ده.

که په مشخص توګه په افغانستان کې د یو شمیر ګوندو، تنظیونو، پارتیو، ډلو او ټپلو ته ځیر شو چې اکثراً د پردو له خوا تمویل، حمایه او سازماندهي کیږي چې د خلکو بلخصوص د ځوانانو د پاکو وطني، ملي، منطقو او ژبیزو احساتو نه د خپل ځان په ګټه ترې کار اخستل شوی دی.

که په دقیقه توګه د دغو تنظمونو ډلو او ټپلوسره په تماس کې شو ډیرې یې په دین او وطن مین خلک دي چې په خواشنۍ سره د یو شمیر خاینو رهبرانو تر تاثیر لاندې راغلي او خپله هستي او ژوندیې ددې خاینو رهبرانو لپاره په ډېر صداقت او ایمانداري قرباني کړی دی چې ژوندی مثال یې چا د اسلام مقدس دین په لاره کې قرباني ورکړه او څوک دي چې ددې شهیدانو د وینو په بیه ځانله لوړ تعمیرونه جوړوي او په خارجي بانکو کې د میلیونونو ډالرو خاوندان ګرځیدلي دي؟

که ددې لیکنې اصلي مطلب ته راشو تاریخ دا ښودلي او هرچاته د منلو وړ ده چې په وطن کې هیڅکله یوې ډلې، یو

تنظیم، گوند یا یو قوم په تنهائي سره د حاکمیت چاري په بریالیتوب سره پرمخ ندي بیولي نو لازمه ده چي د وطن په بیا رغونه کي د افغانستان ټول ولسونه او خلک په ګډه برخه واخلي، زما په اند صرف یووالی او ورورګلوي کولی شي چي د وطن خلک ددې بدبختیو څخه نجات ورکړي او بس، دا چي څنګه دا یووالی مینځ ته راځي او څوک یې راوستلی شي او کوم علمي وړاندیز ددې معضلې اساسي نسخه ده؟ دا د وطن دبادردو، وطنپالو او خداپرسته علماوو، مشرانو او ټولو سیاست والو دنده ده چي پدې برخه کي مثبتي (ګټوري) هلي ځلي وکړي او د افغانستان او د بشریت د خیر لپاره کار وکړي، داسي طرحي وړاندي کړي چي ټولو ته د منلو وړ وي او د افغانستان هر وګړی ته چي په رښتیني ډول دا وطن ورته ګران وي او په پاک احساس سره په مختلفو لارو روان کړ شوی دی ورته د امیدواری او د ژوند کولو زمینه برابره شي. باید د بې باوریو او اختلافونو د مینځه وړلو لپاره مشترک او عملي کارونه تر سره شي.

زما په اند د افغانستان خلک د مختلفو نظرو تر څنګ په وطن مین خلک دي د هریو په زړه کي د وطن د ابادۍ مینه شته چي پدې لار کي د هیوادوالو ریښتني مبارزه د قدر وړ ده زمونږ خلکو د وطن، ازادۍ اود خدای په لاره کي خپل ژوند او هستي هرڅه قربان کړل چي په خواشنۍ سره باید وویل شي ددې قربانیو څخه نا اهلو او خرڅ شوو لېډرانو د ځان او خپلو مافیایي انډیوالانو په نفعه ګټه پورته کړه د وطن، خاورې او اسلامیت تر شعارو لاندې یې ځانونه د شیشه یي قصرونو او میلونونو ډالرو خاوندا ن کړل.

د وطن با درده سیاستوالو**!!!**

په هر تنظیم کي چي یاست په هر لېډر چي مو باور دئ دا ستاسو شخصي کار دئ که مونږ د خپلې لارې حقانیت بل ته کوو او د نورو څخه غواړو چي دده په لار دی لاړ شي او د هغوی رهبر دې ومني دا به عملي نه وي ښه به داوي چي د یوه شعار لاندې د اسلام په خاطر د افغانیت په خاطر د انسانیت په خاطر د هغه پاکو شهیدانو د سپېڅلو وینو په خاطر د هغه کونډو یتیمانو په خاطر کوم چي د یوې مړۍ ډوډۍ لپاره د محنت شپې او ورځي تېروي نور دې بې باور یو، تعصب، ډلو او ټپلوته خاتمه ورکړو او د یو افغان، هموطن او مسلمان تر نامه یو بل ته د وروری لاسونه ورکړو، صرف همدا د بدبختیو د نجات لار ده صرف همدا په مختلفو ډلو او تنظیونو تقسیم کړل شوي خلکو یووالی دی چي د وطن د ټولواقشارو خلکو او ولسونو په صادقانه همکاری د وطن مشکلات حل او دنیا ته وښیو چي افغانان دا استعداد لري او کولای شي چي په شریکه دا وطن جوړ او خپلو خلکو ته د نجات الاهیه وګرځي. دا ده هغه ریښتني لار چي کولای شي زمونږ وطن ددې ناخوالو څخه وژغوري او په ګران افغانستان کي د خلکو د خیر او فلاح لپاره اسلامي، وطني او انساني ګامونه اوچت کړي.

واعتصمو بحبل الله جمیعا لا تفرقو
ترجمه : د خدای په رسۍ منګولي ولګوی او مه جدا کیږی.
ومن الله توفیق